# د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د ديني او ملي ارزښتونو د پیاوړتیا څرنګوالی

**پوهندوی میرویس ستانکزی**

اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، سید جمال الدین افغان پوهنتون، کونړ، افغانستان
ایمیل: stanikzai_mirwais@yahoo.com

**لنډیز**

په دې مقاله کې په تحصیلي بنسټونو کې د ديني او ملي ارزښتونو څرنګوالی او د پیاوړتیا لارې چارې په تحلیلي مېتود څېړل شوي، د افغاني ټولنې له پاره د ديني او ملي ارزښتونو پالنه اړینه ګڼل کېږي، د څېړنې له پایلو ښکاري چې تحصیلي بنسټونو کې له ديني او ملي ارزښتونو څخه موخه د دين په رڼا کې دنيوي اړتیاوې په معقول ډول تنظیمول او پیاوړي کولو غوره لاره یې په تحصیلي نصاب کې د ديني لارښوونو ځای پر ځای کول دي؛ چې د ديني او ملي ارزښتونو په پیاوړي کولو سره د ژمنو او وړ کادرونو روزنه وشي او راتلونکي نسلونه د ديني فکر او ملي هویت په ګاڼه سمبال شي، دا راز په متوازن ډول ورته پاملرنه نه کول ناخوالې له ځانه سره لري.

**کلیدي اصطلاحات:** تحصیلي بنسټونه؛ دينپالنه؛ ديني ارزښتونه؛ کلتور؛ لوړې زده کړې؛ ملي ارزښتونه

# Strengthening Religious and National Values in Higher Education Institutions

**Assistant Prof. Mirwais Stanikzai**

Department of Islamic Culture, Faculty of Islamic Law, Sayed Jamaluddin Afghani University, Kunar, Afghanistan
Email: stanikzai_mirwais@yahoo.com

**Abstract**

This article delves into the nature of religious and national values within higher education institutions, aiming to identify strategies for their enhancement. The study adopts an analytical approach, recognizing the preservation of religious and national values as a fundamental prerequisite for Afghan society. The research findings underscore that integrating Islamic teachings into the educational curriculum is pivotal in aligning worldly needs with religious principles. This approach serves as a means to reinforce religious and national values, ultimately contributing to the cultivation of committed and proficient individuals. Such an approach fosters a national identity and nurtures a religious sensibility within future generations. Conversely, neglecting these considerations may lead to undesirable consequences.

**Keywords:** Educational Institutes; Religiousness; Religious values; Culture; Higher Education; National Values

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین، و الصلاة و السلام علی خیر خلقه محمد و علی اله و اصحابه اجمعین و بعد:

د پوهې او څېړنې پر مټ د ارزښتونو پیاوړتیا او پرمختګ په اوسنۍ نړۍ کې د تمدنونو ترمنځ د سیالي هغه ډګر دی، چې کومو ملتونو ورته پاملرنه کړې ده، هغوی یې سرلاري او چا چې پکې ناغیړې کړې ده، په حقیقت کې یې له خپلو ارزښتونو سره لوبې کړې دي.

د بشري هویت د تکامل له پاره دیني او ملي ارزښتونه بنسټي عناصر ګڼل کېږي، له همدې امله د ژوند په ټولو ډګرونو کې د دې پیاوړتیا یوه اړتیا او په خپل ځای ارزښتمن ګڼل کېږي، دغه اړتیا او ارزښت نه تر نورو ډېر په تحصیلي بنسټونو کې کار کېدای شي، ځکه په دې بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د تحقق په اړه پلټنې او څېړنې کېږي او د حل لارې ورته په ګوته کېږي، چې غوره تحصیلي نظام، ځوان نسلونه او پر دیني او ملي ارزښتونو ژمن کادرونه د دې بهیر فعالې برخې دي.

په دې څېړنیزه مقاله کې هم په تحصیلي بنسټونو کې د ملي او دیني ارزښتونو د پیاوړتیا څرنګوالي باندې بحث شوی دی.

**د ستونزې بیان**

دا چې تحصیلي بنسټونه د ځوان نسل د روزنې او راتلونکي د جوړونې پیلامه ګڼل کېږي؛ نو ځکه د اسلامي او افغاني ارزښتونو د دښمنانو له لورې د خپلو ارزښتونو، کلتور او د ژوند بڼې ته زموږ د ځوانانو د لېواله کولو له پاره ډېر کار شوی او کېږي او دا ځکه چې د اسلامي او افغاني ارزښتونو دښمنان په تحصیلي ماحول کې د دیني ارزښتونو او د ځوانانو د تدین له رول او تأثیر څخه په وېره کې دي، د افغانستان په پوهنتونونو کې څرنګه چې لازمه ده په کافي اندازه د اسلامي او ملي ارزښتونو د ترویج او ودې لپاره کار نه دی شوی، همدا سبب و چې په پوهنتونونو کې د نوښتګرو او پر دین او وطن مینو کادرونو پر ځای زمونږ له تحصیلي بنسټونو څخه ځینې داسې څېرې ټولنې ته وړاندې شوې چې د دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو د پوره کولو پر ځای د ټولنې د اوږو بار شول، او د ماده پرستۍ پر فکر روزل شوي؛ چې د نورو د ګټو او اړتیاو د پوره کولو پر لار به روان و.

**د څېړنې ارزښت**

دې کې شک نه شته چې تحصیلي چاپیریال د ځوان نسل د دیني، اخلاقي او ټولنیز جوړښت پیلامه ده، پیل چې څنګه او په کومه انګیزه وشي، هماغه به د هغه ولس په دینې، اخلاقي او ټولنیز جوړښت کې څرګندېږي، که مو پوهنتوني چاپیریال د دینپالنې او خپل منل شوي کلتور په خوږه روحیه سمبال

وي، نو پکې روزل شوی نسل به هم د خپل ولس ارزښتونو او د هغه ټولنیز جوړښت ته ژمن وي او که د پردیو پر فکر او انګیزو وروزل شي، نو روزل شوي افراد به یې هم پردیو ته وفادار او د هغوی پر لاره روان وي، د هر ملت د پایښت، ازادۍ او د سرلوړۍ د خوندیتوب اسباب او عوامل د هغه ملت پر دیني او کلتوري ارزښتونو کې نغښتي وي او هر ولس چې خپل دیني او کلتوري ارزښتونه له لاسه ورکړي، هغه خپل شتون هم له لاسه ورکوي، هغه ملت بیا نه له نورو ملتونو سره سیالي کولای شي، او نه هم په نورو کې له منحل کېدلو څخه ځان ژغورلای شي.

## څېړنموخې

په دې څېړنې کې لاندې موخو ته د رسېدلو هڅه شوې ده؛

اصلي موخه: د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پیاوړتیا څرنګوالی او لارې چارې په ګوته کول.

فرعي موخې

۱. د لوړو زده کړو د بنسټونو پېژندنه.

۲. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو ارزونه.

۳. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو پر وړاندې ننګونې.

۴. د لوړو زده کړو بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو لارې چارې.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنو ته د ځواب میندلو هڅه شوې ده؛

اصلي پوښتنه: د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پالنې او پیاوړتیا لارې چارې څه دي؟

فرعي پوښتنې

۱. د لوړو زده کړو د بنسټونو څخه موخه څه ده؟

۲. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو اوسنی وضعیت څنګه ارزوئ؟

۳. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو پر وړاندې ننګونې څه دي؟

۴. د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پاللو لارې چارې څه دي؟

## د څېړنې مخینه

په تحصیلي بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پیاوړتیا په اړه داسې کومه څېړنه زما ترسترګو نه شوله، په سیمه ییزو کتابتونونو، څېړنیزو لیکنو او د هېواد په بېلابېلو څېړنیزو مراکزو کې د پوښتنو او ګرویېږنو له

لارې مې داسې څه ونه موندل، البته په انټرنیت کې مې ځینې مقالې ولیدلې چې په تحصیلي بنسټونو کې د دیني او ملي فکر پر وړاندې ننګونې، ستونزې او بېلابېلې خبرې پکې وې، لکه؛

- د مولوي عبدالهادي مجاهد لیکنه :(د ولسونو او نظامونو په جوړولو او ورانولو کې د تعلیم، فکر او فرهنګ نقش).
- د ډاکټر عبدالرحمن شهیدزاد لیکنه: (د واحد مذهبي تعلیمي نصاب اړتیا)، د رقیب سایل لیکنه(په پوهنتون کې تحصیلي نصاب).
- د مولوي عبدالهادي مجاهد لیکنه: (په دیني تعلیمي نصاب کې د معاصرې باطل پېژندنې د مضمون ضرورت).
- د ډاکټر عطاالله زیارمل لیکنه: (تعلیمي نصاب او په کې شته ستونزې).
- د محمد تمیم رحیم زی لیکنه: (د افغانستان تعلیمي نصاب بدلون ته اړتیا لري).
- د پوهندوی دکتور فضل الهادي وزین لیکنه: (د افغانستان تعلیمي نصاب کې د دیني توندلارۍ رېښو پیدا کولو په راپور لنډه کتنه!).
- د میا نور اغا لیکنه: (عصري تعلیمي نصاب مو باید څنګه وي؟).
- او همدا راز په عربي ژبه مې یوه مقاله هم ولیده چې په جامعة المعسکر کې د استاذ فتیحة صنور له خوا ترسره شوې ده.
- چې د ټولو مقالو او څېړنو انټرنیټي لینکونه او ادرسونه یې د سرچینو په فهرست کې ځای پر ځای شوي دي.

خو دا ټول معلومات د یوې اکاډمیکې مقالې او څېړنې په توګه نه دي، بلکې یوازې معلوماتي یا شخصي نظریات دي.

**څېړندود**

دا څېړنه په تحلیلي مېتود ترسره شوې ده؛ چې مواد یې په ټوله کې له انټرنټ څخه را اخیستل شوي دي.

**د تحصیلي بنسټونو او دیني او ملي ارزښتونو معنا او مفهوم**

**د تحصیلي بنسټونو مفهوم**

د لوړو زده کړو له بنسټونو څخه موخه هغه پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسې دي، چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې تحصیلي، څېړنیز او علمي خدمتونه وړاندې کوي.

## د دیني ارزښتونو مفهوم

له دیني ارزښتونو څخه موخه د اسلام د مبارک دین هغه عام اساسات او اصول دي چې په ټولیزه توګه یې روح په ټولو شرعي حکمونو کې رعایت شوی دی او د اسلامي شریعت مقاصد چې د مصالحو د لاسته راوړنې او د ضررونو د محوه کولو غوښتنه کوي او هم د اعتدال د اصل رعایت او همدا راز د اسلامي هویت او پر دین ولاړې انګېزې درلودل (صنور،۲۰۱۷، ص۸۳).

## د ملي ارزښتونو مفهوم

له ملي ارزښتونو څخه موخه هغه افغاني درانه منل شوي عنعنات او دودونه دي چې د اسلام له مبارک دین سره ټکر نه لري چې د نورې نړۍ په پرتله یې افغانان لري او پرې ویاړي لکه هر اړخیزه خپلواکي او د ژوند په ټولو ډګرونو کې د افغانپالنې کلتور او هېوادنۍ مینه او داسې نور د افغاني کلتور او ملي ارزښتونو په توګه یادولای شو.

همدا راز د عصري علومو او ساینسي پرمختګ د لړۍ فعاله ساتل هم د ملي ارزښتونو له جملې څخه ګڼلی شو، ځکه چې د هېواد د ځمکنۍ خپلواکۍ په څېر علمي او انکشافي خپلواکي هم ملي اړتیا ده.

## په افغاني تحصیلي بنسټونو کې د دین پالنې مثبتې اغېزې

لکه چې مخکې مو یادونه وکړه، دین پالنه او دیني ارزښتونو ته ژمنتیا د اسلامي امت د هر وګړي مسؤلیت دی، چې له امله یې وخت پر وخت مسلمانو دعوتګرو خپلې هڅې نه دي سپمولي چې له امله یې د لوړو زده کړو په بنسټونو کې مثبتې لاسته راوړنې هم له ځانه سره لرلي دي، چې ځینې یې په لاندې توګه وړاندې کوو:

- د تحصیلي بنسټونو څخه به مو د دیني لارښوونو په ګاڼه سمبال علمي کادرونه ټولنې ته وړاندې کېږي.
- د ټولنیزو اړتیاو د پوره کولو په لاره کې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند عملي تګلاره عملي کوي.
- داسې علمي کادرونه به ټولنې ته وړاندې کېږي، چې د تحصیل سره سره به د عبادتونو او نورو الهي احکامو د حکمتونو او ګټو انګېزه له ځانه سره لري او هم به د اسلام د سپېڅلي دین سره بشپړ تړاو پالي.
- د افرادو خپل منځي کې چلن مو ځوانان پر قرآني او اسلامي اخلاقو سینګار وي، او د ناوړه اخلاقو څخه به خپل ځانونه ساتي.

- د عصري علومو ماهرین به مو د الله جل جلاله د ستر او سپېڅلي کتاب قرآن کریم څخه د حقیقي پوهې او درک په رڼا کې د هېواد د پرمختیا او سوکالي لپاره کار کوي.
- په ورځنیو مالي معاملاتو او اقتصادي ژوند کې به داسې معلومات لري چې؛ کفایي فریضه لکه؛ ساینس او ټکنالوژۍ کې تخصص او داسې نور به د دیني ارزښتونو په رڼا کې پالي.
- په دې سره به هم دنیوي اړتیاوې او هم د خپلو دیني ارزښتونو په پاللو سره د اخرت له تلپاتې ګټو څخه هم برخمن شي (عزیزي، ۱۳۹۸هـ ش، ۹۱-۹۸).

**د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پالنې او پیاوړتیا پر وړاندې ننګونې**

د کره معلوماتو او عیني واقعیتونو په رڼا کې د هر اړخیزې څېړنې پر اساس کولای شو په تحصیلي بنسټونو کې د دیني او ملي ارزښتونو د پالنې او پیاوړتیا پر وړاندې ځینې خنډونه، ستونزې او ننګونې په لاندې توګه په ګوته او تر څېړنې لاندې ونیسو:

- د مسجدونو د ابادۍ ستونزه: په ځینې پوهنتونونو کې مسجدونو جوړولو ته ځانګړې توجه نه ده شوې، او نه هم مسجدونه څرنګه چې لازمه ده په عبادتونو اباد نه دي، له جوماتونو سره د ځوانانو د زړونو تړل او لېوالتیا خورا اړینه ده، چې دا ستونزه په ځینو پوهنتونونو کې د جومات بېخي نشتوالي، وړوکوالي او تنګوالي، معنوي ویجاړۍ، د فکري او دیني روزنیزو دعوتي درسونو کمزوري او نورو بنو سره یادولای شو، چې دا هم د دیني ارزښتونو د پیاوړتیا پر وړاندې یوه ستره ننګونه ده.
- د نورو سره مشابهت او ړوند تقلید: زموږ په تحصیلي نهادونو کې ځینې چارې داسې هم دي، چې نه زموږ د دین او نه هم افغانیت سره اړخ لګوي، او نه هم د پرمختللې نړۍ د پرمختګ راز ګڼل کېږي، بلکې بې ځایه کړنې دي، لکه د فراغت په درشل کې په جامو لیکل کول، د هغوی د فارغانو په څېر محفلونه جوړول او د ړوند تقلید ګڼې نورې بېلګې چې یوازې له کفارو سره د مشابهت هڅه ده، چې دا په اسلامي شریعت کې یو حرام عمل دی، په یو حدیث کې راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» (ابوداود، ب ت، ج ۴، ص ۴۴).

یعنې څوک چې له یو قوم سره ځان مشابه او ورته کوي، هغه به د هغوی له جملې څخه وی.

موږ د یو نړیوال، معقول او فطري دین او افغاني اوچت هویت په لرلو سره باید د نورو له پاره بیلګه واوسو، له بده مرغه چې زموږ په ځینې تحصیلي بنسټونو کې د نورو د لباسونو او د هغوی په څېرخوی بوی کولو هڅه کېږي، او دا لوړ او پرمختللی تهذیب ګڼل کېږي، او د خپل ملي او دیني هویت، صورت او سیرت باندې ځان برابرول وروسته پاتې والی، بنسټ پالنه او ناپوهي ګڼل کېږي، په داسې حال کې چې اصلي پوهه د خپل ځان او بیا نورو پېژندل دي، یا هم خپل کلتور او دین پېژندل او تر نورو لوړې

پرې ځپل ځان برابرول دي، یا په بل عبارت د نورو پېښې کول پرمختګ نه دی، بلکې چې نور ستا پیښې وکړي، دا پرمختګ او تهذیب دی، چې له بده مرغه دا او دې ته ورته کړنې زموږ په ځینې تحصیلي بنسټونو کې له خورا سترو ننګونو څخه شمېرل کېږي.

- د نجونو ګډ تعلیم: پدې کې شک نشته چې تعلیم د ښځې او نارینه حق دی خو شرایط یې یوله بل سره توپیر لري نو په دې اساس دولت مسئولیت لري چې د نجونو لپاره د تعلیم شرایط برابر کړي او د هغوی لپاره بیل او ځانګړې مکتبونه اومدرسې جوړې کړي ترڅو هغوی زده کړې وکړي، همدارنګه په کار ده چې دښځو لپاره د لوړو زده کړو زمینه او اسانتیاوې برابرې شي؛ څو هغوي له تحصیل څخه محرومې نشي او خپلې لوړې زده کړې په ښه شان سره وکړي اوپه لاره کې موانع یې له منځه یوړل شي.
- د ښځو زده کړې او تحصیل لپاره باید ځینې اصول او مقررات شتون ولري؛ څو له زده کړو او تحصیل څخه محرومې پاتې نشي، لکه: ځانګړي تحصیلي بنسټونه جوړول، د نجونو لپاره شرعي حجاب رعایتول، د ناستې پاستې بیل چاپېریال، د عفت او حیثیت خوندیتوب او نورې اسانتیاوې (شرفی، (۱۳۷۸ ل)؛
- په عصري زده کړو کې د نورو د پنځونو پیروي: زموږ د هېواد پر تحصیلي او څېړنیزو بنسټونو کې یوه لویه نیمګړتیا د ساینسي څېړنو کمزوري او په دې تړاو د نورو د پنځونو او صنعتونو پیروي ده، د پرمختګ او انکشاف هغه ویاړونه چې زموږ اسلافو یې د نوښت ویاړ درلود، اوس د نورو په ولکه کې دی، زموږ ځوان نسل او علمي کادرونه تر نورو کم نه دي، چې ښه بېلګه یې په دې وروستیو کې د افغان انجینرانو له لوري د یو پرمختللي او ښایسته موټر جوړول دي، له بده مرغه زموږ د تخلیق او پنځونې برخه ډېره کمزورې ده، چې دا زموږ د هېواد د څېړنیز او انکشافي استقلال او ملي ارزښتونو پر وړاندې ستره ننګونه ده.
- د استاذ واقعي مقام ته نه درناوی: په تحصیلي بنسټونو کې کله کله د استاذ مقام ته څرنګه چې ښایي د شاګردانو له لوري درناوی نه کېږي، مخامخ ستغې سپورې، ګواښونه، له ټولګي څخه شړل، درس ته یې نه کېناستل، د ډېرو نومرو له پاره له ګواښ څخه استفاده، د استاذ جاسوسي کول، استاذ ته اذیت رسول، د ادارې له خوا له قانع کونکو دلایلو پرته د استاذانو په تعین او تبدیل کې د محصلانو خبرو ته غوږ نیول او بیا یې عملي کول او نورې ګڼې تحقیرونکې کړنې دي چې زمونږ ځینې تحصیلي بنسټونه یې بد رنګه کړي، استاذ ته پکې د استاذۍ هغه سپېڅلی مقام او درنښت ندی ورپاتې، چې له امله یې زمونږ ځینې تحصیلي بنسټونو خپل کیفیت له لاسه ورکړی او د تربیې او

روزنې له پلوه ځينې کمزورۍ ځوانان ترې ټولنې ته وړاندې کيږي، دا يوهستره غميزه ده، او که مخه يې ډب نه شي شونې ده چې په راتلونکې کې به ور څخه خورا ډېرې ستونزې جوړې شي (عابد، ۲۰۲۰م).

**د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د ديني او ملي ارزښتونو پاللو لارې چارې**

کولای شو په تحصيلي بنسټونو کې د ديني او ملي ارزښتونو د پياوړتيا له پاره له لاندې لارو څخه ګټه واخلو:

- د مسجدونو جوړول، څو استادان، محصلان او ټول اداري کارمندان او منسوبين لمونځ په جومات کې ترسره او په مسجد کې د عبادت له خوندونو څخه يې برخمن شي، لکه له نورو سره همدردي؛ کله چې د جماعت په لمانځه کې خلک د يو بل سره راټوليږي او يو بل ګوري د يو بل د حال احوال څخه خبريږي، د جومات له امام او نورو علماوو څخه د د دينې مسائلو د زده کړې فرصت تر لاسه کيږي او داسې نور.
- د اسلامي فکر او دعوت پراختيا، په بېلابېلو مناسبتونو کې په بېلابېلو موضوعاتو باندې غونډې او کنفرانسونه جوړول، د نبوي سپېڅلي سيرت بيانولو سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژوند عملي اړخونه بيانول، له هغه سره د مينې او محبت اړيکې پياوړې کول، د نبوي صورت او سيرت عملي کولو ته دمحصلانو هڅونه، د نبوي سيرت له بېلابېلو برخو څخه عبرتونه او درسونه ترلاسه کول، همدا راز د نبوي سيرت د زده کړې په برخه کې سيالۍ، په دې ډول ځوانان د سيرت پوهنې برخې ته هڅول او د پېغمبر صلی الله عليه وسلم د ژوند، سيرت او صورت څخه خپل راتلونکي نسلونه خبرول.
- د قران کريم د حفظ حلقې جوړول، د قران کريم ابتدائي او لفظي زده کړه، تجويد او د حسن قرائت پروګرامونه جوړول، او د قران کريم د تلاوت رواجول، او په دې سره د دې روحاني دود او ديني ارزښت ايجاد او ودې ته زمينه برابرول.
- د فکري استعمار اړوند موضوعاتو باندې تحليلي ګردي ميزونو، تحليلي ناستو او مناظرو له لارې د فکري ښکيلاک، تبشير، تنصير، استشراق او غربي ايډيالوژۍ پر وړاندې مبارزه کول، د ديني ارزښتونو او افغاني کلتور څخه په کلکه دفاع کول، په معقول او منطقي استدلال سره د هغوی نيوکې او شبهات ځوابول، اورېدونکو او ليدونکو ته د قناعت وړ مرکې او مناظرې وړاندې کول او له دې لیارې د ديني ارزښتونو د پياوړتيا په موخه په پوهنيز او څېړنيز ډګر کې رغنده رول لوبول.

- د فردي او ټولنیزو سلوکونو او چلندونو په برخه کې د اسلامي غوره اخلاقو په علمي او عملي ډول د پوهنتوني چاپېریال رنګینه کول.
- د نجونوپه زده کړو کې د دیني ارزښت په توګه د اختلاط مخنیوی او د حجاب برخې ته ځانګړې پاملرنه کول، د بېلګې په توګه ځانګړي پوهنتونونه، پوهنځي، ښځینه استادانې، ځانګړی ترانسپورت او د دې ترڅنګ داسې رغنده اقدامات کول، چې د دیني ارزښتونو او افغاني ټولنې د کلتور په برخه کې ټولو هېوادوالو ته د قناعت وړ او په اطمینان او د زړه په ډاډ سره ښځینه وکولای شي دیني او عصري زده کړې ترسره کړي.
- په تحصیلی بنسټونو کې باید استاذان په واقعي معنا په زړونو حاکم مربي وي، د تعامل اساس علمي اړیکې وي، په تحصیلي چاپېریال کې معنویت پالنه غني شي، یوازې تجارتي او پروژه یې بنسټ نه وی، داسې پالیسی عامې کړای شي چې په درسي، څېړنیز او ټولو رسمي چلندونو کې د استاذ د مقام او حیثیت خوندیتوب تضمین کړای شي، په ازموینو کې د استاذ صلاحیتونه زیات شي، او په ټولو پوهنیزو او څېړنیزو چاپیریالونو کې د احترام او درناوي له پاره داسې کړنلارې جوړې کړای شي چې په پایله کې یې د استاذ حیثیت لا نور هم خوندي شي (عابد، ۲۰۲۰م).

## د څېړنې موندنې

د څېړنې په اوږدو کې لاندې موندنې لرو:

- له دیني ارزښتونو څخه موخه د اسلامي شریعت مقاصد، د اسلام د مبارک دین اساسات او ځانګړنې دي.
- له ملي ارزښتونو څخه موخه هغه افغاني درانه منل شوي عنعنات او دودونه دي چې د اسلام له مبارک دین سره ټکر نه لري چې د نورې نړۍ په پرتله یې افغانان لري او پرې ویاړي.
- دین پالنه او دیني ارزښتونو ته ژمنتیا د اسلامي امت د هر وګړي مسؤلیت دی، چې له امله یې وخت پر وخت مسلمانو دعوتګرو خپلې هڅې نه دي سپمولي چې پر بنسټ یې د لوړو زده کړو په بنسټونو کې مثبتې لاسته راوړنې هم له ځانه سره لرلي دي.
- په تحصیلي بنسټونو کې ملي ارزښتونو ته پاملرنه په حقیقت کې د دیني ارزښتونو د ترلاسه کولو وسیلې دي، یا په بله اصطلاح ملي ارزښت وسیله او دیني ارزښت غایه ده.
- په تحصیلي بنسټونو کې د ملي ارزښتونو او اړتیاو ترڅنګ دیني ارښتونو ته پاملرنه کول یوه وجیبه او هم ګټې او مثبتې اغېزې لري، تر ټولو مهم یې دا چې ټولنیزې اړتیاوې په دیني لیدلوري سره ځوابېدل دي.

- د لوړو زده کړو په بنسټونو کې ديني او ملي ارزښتونو ته نه پاملرنه ګڼې ناخوالې له ځانه سره لري، چې په ټوله کې د يوې ديني ټولنې د ديني هويت او د منل شوي افغاني تشخص له لاسه ورکول دي.
- په تحصيلي بنسټونو کې د ديني او ملي ارزښتونو د پلي کولو او پياوړي کولو ګڼې لیارې چارې شتون لري چې تر ټولو مهم يې په زده کړه ييز نصاب کې پدې تړاو ډېرو موادو او وخت ته ځای ورکول په ګوته کېږي.

**مناقشه**

که پورتني موندنې د پخوانيو حالاتو سره پرتله کړای شي، څرګندېږي چې؛

لومړی: د تېرو دورو د ځينې نظر څښتنانو له انده په تحصيلي ډګر کې ملي اړتياوې تر هر څه زياتې مهمې ګڼل شوې وې، هماغه و چې له دې ارزښتونو څخه يې ديني ارزښتونه قربان کړل، يا په بله اصطلاح ډېر افراط او تفريط يې وکړ، ځکه نود تحصيلي نظام د شتون سره سره موږ حتی د ملي اړتياو په تړاو په تحصيلي ډګر کې د پام وړ لاسته راوړنه، نه درلوده.

په دې برخه کې بايد يادونه وشي چې د يوې ټولنې دنيوي اړتياوې له ديني ارزښتونو سره څنګ په څنګ پالل د هغې ټولنې د پرمختګ راز ګڼل کېږي، چې يوازې د ديني زده کړو په نوم ټولنيزې اړتياوې له پامه غورځول هم بې لکه شکه يوه تېروتنه ده، او د غوره او ګټور عمل له نښو څخه دا ده چې افراط او تفريط څخه بايد خالي وي، خوپه ديني انګيزه دنيوي اړتياوې او ملي ارزښتونو ته تحقق ورکول د دين پالنې حقيقي روح دی، او په داسې انګيزه چې کومه چاره هم ترسره شي، لره پايله يې هم ډېره اغېزمنه او ګټوره ګڼل کېږي، نو ځکه وايو، په تحصيلي ډګرونو کې د زده کړې، روزنې او څېړنې په بهير کې بايد لومړيتوب ديني ارزښتونو ته وشي او په رڼا کې يې ټولنيزو اړتياو ته د ځواب ميندلو لارې چارې په ګوته شي.

دويم: د ديني او ملي ارزښتونو تر مينځ د اړيکې د متوازن ساتلو پر ځای ځينې خلک په رښتيني اسلام د ناپوهۍ او ځينی نور بيا د اسلام سره ددښمنۍ له مخې داسې انګېري چې ګويا په اسلامي شريعت کې د عصري علومو زده کړه هيڅ ځای نه لري، خو د دوی دغه نظر په لاندې توګه تر مناقشې لاندې نيول کېږي:

عصري علوم د ډېرو شرعي احکامو د پرځای کولو وسيله ده لکه چې مسلمانانو ته د جګړې په وسايلو او اسبابو د ځانونو چمتو کولو باندی امر شوی دی، په دې اساس د شريعت اصلي مقصد او موخه د هغو پنځو شيانو ساتل دي چې انسان ورته ديني او دنيوي ضرورت لري چې هغه عبارت دې له: دين، نفس، مال، عقل او نسل څخه، دغه پنځه ضروريات ساتل لکه څرنګه چې ښايي هسې نن سبا پرته له

عصري علومو ستونزمن دي، یا په بل عبارت د همدې علومو په ترلاسه کولو سره ښه د تحقق چانس لري.

اسلام له مسلمانانو غواړي چې همېشه برلاسه او د نورو په مقابل کی عزتمن واوسئ، او کله هم د هغوی په وړاندي د ټيټوالي احساس ونه کړي، دا لا څه چې عملا تر نورو ټيټ او هغوی ته محتاج وي، او ښکاره خبره ده چې دا کار هله ممکن دی چه مسلمانان په عصري علومو کې که تر نورو وړاندي نه وي چې کم خو نه وي، او که يې سيالان نه وي بيا به نو ترې متضرر وي، چې بيا به دنيوي او اخروي خطرناکې پايلې هم لري، لکه دا نن چه مسلمانان ورسره عملا لاس په ګريوان دي.

هر څومره چې يو مسلمان د کائناتو په اسرارو خبر وي هماغومره د قرآن مجيد د اعجاز په رابرسېره کولو او د رسول الله - صلی الله عليه وسلم - د حقانيت د اثبات لپاره روڼ استدلال کولای شي.

دا خوجوته ده چې د عصري علومو زده کړه د ډيری شرعي آحکامو او واجباتو د پرځای کولو ښه وسيله ده، دا راز يوه اصولی فقهي قاعده وايي چې:« مَا لم يتم الْوَاجِب إِلاَّ بِهِ فَهُوَ وَاجِب»(الزرقا، 1409هـ - 1989م، ص۴۸٦).

هغه څه چه واجب پرته له هغه نه پرځای کیږی هغه هم واجب دی. اوپه عين وخت کی له دغه علومو څخه مخ اړول د امت د ضعف او ضرر مهم لامل دی.

لنډه دا چې:که د مسلمانانو سره ښتيا هم د هغسې باعزته ژوند فکر وي لکه څرنګه چې د دې امت سره ښايي نو بايد چې په شرعي معيارونو سمبال د عصري علم لاس ته راوړلو ټينګ هوډ وکړي.

**پايلې**

د څېړنې پايله په لاندې توګه وړاندې کيږي:

- په تحصيلي بنسټونو کې له ديني او ملي ارزښتونو څخه موخه د دين په رڼا کې ملي اړتياوې په معقول او منطقي ډول تنظيمول دي.
- په تحصيلي ډګر کې د ديني او ملي ارزښتونو د پياوړي کولو يوازينۍ لاره په زده کړه ييز نصاب کې د ديني مفاهيمو ځای پر ځای کول او زياتول دي او د موخو په ترلاسه کولو کې د دې دواړو عنصرونو شتون مهم دی، چې بې له شکه موخې مهمې نو د ترلاسه کولو وسيلې يې هم مهمې دي.
- په تحصيلي بنسټونو کې ديني او ملي ارزښتونو ته د پاملرنې په رڼا کې د ژمنو او مخلصواشخاصو روزنه مثبتې اغېزې له ځانه سره لري چې له امله به يې زمونږ د هېواد راتلونکي نسلونه د ديني فکر او ملي هويت په ګاڼه سمبال وي، لاسته راوړنې به مو د ملي ارزښتونو په تحقق کې ګټورې تمامې شي.

۴. په تحصيلي ډګر کې د ديني او ملي ارزښتونو پر وړاندې يو لړ ننګونې هم لرو چې بيا يې هم تر ټولو لوړه ستونزه د ديني روزنې او دين پالنې د حس کمزوري کېدل ګڼلی شو.

۵. او بالاخره په تحصيلي ډګر کې د ديني او ملي ارزښتونو په متوازن ډول له پامه غورځولو ناوړې ناخوالې له ځانه سره لري چې تر ټولو ستره يې همدا ده چې نه به په عصري علومو او څېړنيز ډګر کې له سيالانو سره سيال شو، او نه به مو ديني ارزښتونه پاللي وي چې په نتيجه کې به په ديني او دنياوي دواړو ډګرونو کې لالهانده او د نورو د نوښتونو ننداره او پيروي به کوو.

**وړانديزونه**

د څېړنې په پای کې غواړم ځينې اړين وړانديزونه ولرم:

لومړی. د اسلامي امارت له درانه مشرتابه څخه مې دا هيله ده چې په تحصيلي بنسټونو کې د ديني او ملي ارزښتونو د لا پياوړتيا او تحقق له پاره جدي توجه وکړي څو په راتلونکي کې دغه مرکزونه د دين او هېواد د ساتنې او پرمختګ قوي سنګرونه شي.

دويم. د لوړو زده کړو او نورو تعليمي بنسټونو له چارواکو څخه مې دا غوښتنه ده چې په ګډه او همغږۍ د راتلونکي نسلونو د روزلو له پاره داسې تحصيلي ښونيز نصابونه جوړکړي، چې هم مو پکې ديني ارزښتونو ته کار شوی وي او هم مو ملي ارزښتونه او ټولنيزو اړتياو د پوره کېدلو برخه پياوړې شوې وي.

دريیم. د تحصيلي بنسټونو کارپوهانو، څېړونکو او فعالانو ته مې دا پيغام دی چې په خپلو څېړنو او ليکنو کې د ديني لوړو موخو او د هېواد د ملي ارزښتونو د تحقق له پاره داسې هر اړخيزې او پوهنيزې څېړنې ترسره کړي چې د نورو د پيروۍ پر ځای نور زموږ پر پل د تګ هڅه وکړي.

څلورم. د تحصيلي بنسټونو ټولو منسوبينو، استادانو، محصلانو او کارمندانو ته مې دا پيغام دی چې کوښښ وکړي، په خپلو زده کړو کې ټولنيزو اړتياو ترڅنګ ديني ارزښتونو باندې لاعميق پوهېدلو ته هم وخت ورکړي.

## سرچيني


أبو داود، سليمان بن الأشعث السِّجِسْتاني. (275هـ). سنن أبي داود، بيروت: المكتبة العصرية، صيدا.

رحيم زى، محمد تميم. (۲۰۱۹م). د افغانستان تعليمي نصاب بدلون ته اړتيا لري، https://www.nunn.asia/145016/.

الزرقا، أحمد بن الشيخ محمد. (1409هـ 1989م). شرح القواعد الفقهية، دمشق، سوريا: دار القلم، دويم چاپ.

زيارمل، ډاکتر عطاالله. (۲۰۲۰م). تعليمي نصاب او په کې شته ستونزې، https://www.nunn.asia/177236/.

سايل، رقيب . (۱۳۹٦هـ). په پوهنتون کې تحصيلي نصاب، https://rohi.af/news/55600.

شرفی، حسين. (۱۳۷۸ل). شهيدمطهری وحقوق زن دراسلام، پژوهش های قرآنی، تهران: شماره (۱۷) و(۱۸) بهار وتابستان.

شهيدزاد، ډاکتر عبد الرحمن. (۲۰۲۲م). د واحد مذهبي تعليمي نصاب اړتيا، https://www.nunn.asia/203009/.

صنور، استاذ فتيحة. (۲۰۱۷م). أثر الضوابط الدينية على تمثلات الطالبة الجامعية، مجلة الاكادمية للدرسات الاجتماعية والانسانية، https://www.asjp.cerist.dz/en/article/73759.

عابد، دوکتور عبدالقاهر. (۲۰۲۰م). په ښوونيزو مرکزونو کې د معلم بې قدري؛ لاملونه او حل لارې، https://www.nunn.asia/168685/.

عزيزي، شېرزاد. (۱۳۹۸هـ). د اسلامي ثقافت ارزښت او د ننګرهار پوهنتون پر ځوانانو يې اغېزې، د شريعت وړانګې، ننګرهار پوهنتون، شرعياتو پوهنځي علمي او څېړنيزه مجله، لومړۍ ګڼه.

مجاهد، مولوي عبدالهادي. (۲۰۱۷م). د ولسونو او نظامونو په جوړولو او ورانولو کې د تعليم، فکر او فرهنګ نقش، نن ټکی اسيا https://www.nunn.asia/97019/ .

مجاهد، مولوي عبدالهادي. (۲۰۱۹م). په ديني تعليمي نصاب کې د معاصرې باطل پېژندنې د مضمون ضرورت https://www.nunn.asia/97019/.

ميا نوراغا. (۲۰۲۲م). عصري تعليمي نصاب مو بايد څنګه وي؟ https://www.nunn.asia/201453/.

وزين، فضل الهادي. (۲۰۲۰م). د افغانستان تعليمي نصاب کې د ديني تونډلارۍ ربښو پيدا کولو په راپور لنډه کتنه، https://www.nunn.asia/168652/.